# د ښاغلی سلیمان لایق د شعرونو بیلګی

## چونغرته دوهمه ترانه

زما دنیکونو اوپلرونو کوره!
ای درنګینوخاطروچونغره!
ستا هره تږه دتاریخ پاڼه ده
ای دلرغونوعظمتوچونغره!

په دغه شاوو خوا دروکې وایه
ستا شازلمیان اوسربازان څه شول؟
دهغومړولمبوایرې کومې دي
دهمغه اور سمندران څه شول؟

هغه بېباکه عاشقان چېرې دي
هغه دژوند ښکلي لیلا څه شوه؟
دستا دخاورې په قدم قدم کې
دعشق او مینې تمنا څه شوه

ستا په دارو کې چې شاهان خوځیدل
اوس هلته هېره او مرګوخوره ده
ستا په ښارونو او ماڼیو باندې
شګه او خاوره دقرنو خوره ده

هلته چې پېغلې به سوما ځکله
اوس یا ګیدړې یا لېوان ګرځي
دسرخ کوتل دویرانو دپاسه
اوس یا غوایي اویا اوښان ګرځي

کلونه زغلي، زمانه تښتي

HOWD

اوزه ستا ځوکو ته حیران ګورم
دپسرلي په انتظار شومه زوړ
لاستا په پرښوکې خزان ګورم

ستا په کراره او ساړه فضاکې
چونغره زړه مې څو ناري غواړي
دژمي شپه کې چې سپوږمۍ خواره وي
څو دردونکې ننداري غواړي

## چونغرته

ای دکړارو چوپو شپو چونغره!
ستا ددرانده سکوت بلا واخلم؟
ستا دچوپتیا تر سلو ژبو جارشم
ستا دعظمت تپوس له چا واخلم؟

ته چې پیړۍ،پیړۍ ولاړیې دلته
ډیري قیصې او خاطرې به لرې
دشپې له ستورو پیرونوسره
رازاونیازاوزمزمې به لرې

زه ستا دتوروتپوشپوپه زړه کې
داناپیدا دردو سپړل غواړم
دیوه ځوان شپونکي له دروي څخه
دسویوهیلواوریدل غواړم

کله چې ستړی شم، دښارله چیغو
دسحرستوري ته پیغام لېږم
دده په سپینواوززري څنوکې
ستا لوړوځوکو ته سلام لېږم

دستا په لوړو،لوړوځوکوکې زه

هـوډ HOWD

دعشق اومينې ورک جهان لټوم
ستا په وربځو او په تالنده کې
دابدي ښايست نشان لټوم

کله چې زما دژوندډيوه ټپه شي
زماشعرونه به لا تا ستايي
پيږی،پيړی به زما په مرګ وي تېرې
لازما خاوره به چونغره وايي

## په باميان کې د بودا برخليک

ملا ته آسمان ښکاري، د جمات د خونې بام
سپوږمی ورته ښکاريږي، د نوبت د کُرتو جام
اسلام د تورو کرکو او وژلو يو مرام
قران يو ه چاړه، د بی بنياده انتقام
الله د ړيرورو قاتلانو يو امام
ملا ته آسمان ښکاري د جمات د خونې بام

ملا ته دنيا ښکاري د غوايي پر ښکر ولاړه
تاريخ ببره ږيره د عرب د سر رتاړه
ولس يوه رمه، او امارت د مستو ګاړه
د تورې لمن نيسه خلاسوه ورخخه غاړه
دوه غبرګ تيغونه واخله، چلوه ورباندې دواړه
ملا ته دنيا ښکاري د غوايي پر ښکر ولاړه

کابل چړي خانه سوه د عربو د ناتار
وطن يو منډحي سو د پرديو د بازار
لرغونې باميان وران سو د پنجاب په افتخار
معصوم بودا شهيد سو په چاړه د استکبار

هوډ
HOWD

فیصل زموږ امام سو، اسامه زموږه پلار
کابل چړي خانه سوه د عربو د ناتار

طالب په آی. اس. آی. بانډې ټیکه سو د وجدان
په تور پنجاب یې خرڅ کړ، غیرتي افغانستان
کلداره د دین برخه سوه، ډالر سوچه ایمان
خلیج د خدای جنّت سو، او شیخان پیغمبران
کابل اسلام آباد سو، افغان خاوره پاکستان
طالب په آی. اس. آی. بانډې ټیکه سو د وجدان

## دوینو واټ

ذا زموږ د  ستر ګو وړاندی ، «غنی »ګوره څه تیر یزي
یــو با تور ملت  غر قیږی، یو مظبو ط وطن نړیزی
یوه د دنیا د برم او بذل، یوه نړی د میړنیو
د غروب په لوری د رومی ،د تاریخ له پاڼو لویزی
پاس د ستورو راڼه خاڅکی، راته ښکاری اوښکی اوښکی
د آسمان په شنو غومبرو، لاری لاری رابهیږی
سرچی ږدمه په سر ویږدی، هیبتنا ک غږونه اورم
ته  واځمکه په منځ  دوه شوه، افغانی وطن ډوبیږی
یا آسمان زموږ په ویر کی ، ښکته پر یووته په ځمکه
یا قیامت په ځمکه جوړ شو، ولاړ غرونه هواریږی
ایمل"  ریږ دی  په  لحد کی  ،له غصی د زړه په تبه"
چی مغل په خیبر و خوت ، افریدی لا نه پوهیږی
د شنلی بر ځای له دښتو، تیری توری زرغونیږی
د اوبو پر ځای له غرونو،نګه وینی رابهیږی
د باران پر ځای له وریځو ،تندرونه راکوزیږی
د رحمت پر ځای له هسکه، غضبونه نازلیږی

ثمر "شکته پورته دانګی، سترګی  رډی توره کښلی "

نه یی    سترګی له چا سوځی، نه یی شرم له چا کیږی

زینب " چیغی کړی چی ربه، ته لا څه ته ورته ګوری"

دحسین" په زخمی زړه کی،دیزید خنجر ځلیږی"

څه بی پته شوو جنګونه ، څه بی هوډه شوو ننګونه

تو لعنت په دی شملو شه، لا دی جګی نه شرمیږی

دا د چر ګ لکی ته ورته شملی واچوی په ځمکه

دا د شرم او ماتی  نښی ، پښتنو ته نه ښا ییږی

شمله هغلته شمله وی، چی په نر باندی وی لکه

اوس په هر کدو جګیږی ، اوس په هر" اجړا" خوریږی

خدایه دا دی څه راوکړه  ;چی یو نر دی راپړی نه شوو

هر کمر ته چی تکیه شو، لکه شګه را شړیږی

یو" میرویس "  په موږکی نشته ،چی ګر ګین لاری ته سم کړی

یو" شیر شاه "راپورته نه شو، چی " مغل" ته ودریږی

*      *       *

پرو ني ملا ته ګوره ، چی ټو ک خور و سقا ط خورو

اوس چی خصم د افغان شو، په سرو زرو کی ډوبیږی

لویه خیټه غټه کونه  ،نری پښی ببره ږیره

ویته خوله بی شرمه شرګی ، لکه مچ هر څه کی لویږی

مټکور ماغره دتیږی ، بی فر هنګه بی ادبه

چی تبلیغ کوی نخیږی ، چی قران لولی ششنیږی

په اسلام کی لاری باسی ، زموږ د خاوری بربادی ته

دین اخوان ته یو دکان دی ، چی هر څه په کی خر څیږی

دا دی څه بلا اخته کړه  ،زموږ په دی بد مرغو خلکو

نه له تا څخه ډاریږی  ،نه له دوی څخه شرمیږی

اوس چی حکم د ملا شو، د کابل په با چایې کی

HOWD هود

هر ساعت په چاور دانګی ، هزه ورځ په چا ور لویږی

د  افغان په قتل اخلی ، سره پو ندږونه شنی ډالری

پښتو پریرده چی تری تللی؛ له ایما ن سره خرخیږی

باندی سپین په منځ کی تور دی،نګه اوردی؛ نګه اوردی

په هر تار کی يې د ږیری؛ شیطان سپور دی او زنګیږی

هر چړی په چړچوبی کی، باچايې خوبونه وينې

انګر یزی لنچر په غاړه؛ په لار ځی ته وا نځیږی

چی پرون يې دمولی،رڼی خاوری خوسکوته

اوس په بره پښتونخواکی؛په انسان باندی سپر یږی

زما زړه پولی پولی‌دی؛رما سا لمبه لمبه ده

چی دا توره خپکی به؛له موږ کله پورته کیږی

جهاد لوښی د فساد شو، مولانا صاحب جلاد شو

دین دولت دواړه بر باد شو، د ده زړه لا نه سړیږی

زموږ کور د شرارت شو، افغانی وطن غارت شو

دا زموږ د سترګو وړاندی ،(غنی )ګوره، څه یتریږی

موږ زغمل چی رانه لوټ شی، څه چی شته دی بی ناموسه

توری خاوری مو په خوله شه، اوس هغه رانه لوټیږی

دیوی میاشتی تانده ناوی، د شهید په قبر ژاړی

وايې کوم جهادته مړ شوی، ځواب وایه چی ځندیږی

تا چی سر په چادو کړی، هغه غواړی چی ما لوټ کړی

ماور بولی هغه ځای ته، چی شیطان ځنی شرمیږی

زه چی ستا له غمه زاړم، هغه ځاری زما سترګې

سر راپورته کړه شهیده، ارمانونه دي رژیږی

افغانی درنی بی بياني ، چی په پت عزت خوندی وی

دجهها د  تر بیرغ  لاندی، بر بنډیږی لیلا میږی

هر عرب خریدار شوی،زموږد خوندو او خور لڼو

مولانا صاحب يې پلورى، نه شرميږى ،نه څوريږى

تر ښارويو وړياشوى، پيښتنه په منډوى كى

د ښارويو هم څه دود وى، چى په چا باندي خر خيږى

*      *          *

ربه دا لا څه تالان دى،چى به خپل وطن يې وينم

چى خپل سپى به پردى ننګه،افغانانو ته غپيږى

چى له زړه د"كنشكا"نه،شنى لو خړى څى آسمان ته

چى جمرود د سرو په بلخ كى،د"يما"له سره لويږى

"ګرګين"ويوست تيغ دستې،دافغان ننګى كهول ته

د"ميرويس"ليڅه بيواكه،تيرى تورى ته غځيږى

په لاس نه ورځى بى خاورو، نه يې تيغ نه يى لښكر شته

هم لښكر هم يى تيغونه، دوطن پر ضد جنګيږى

خدايه څرنګه بدل شوو،د افغان درانه خوبونه

په هر چا چى موږ تكيه شو،په پرديو پلورل كيږى

د وطن په حق كى نه كا،تش دخير يوه خبره

خو د خپل مطلب لپاره،د هر سپى پښو ته لويږى

په هر ځاى چى باران راشى،زموږ خره يوسى له مخى

په هر خوږ چى سيلاب وزى ،زموږ وره ته راسميږى

په هر سيمه چى بريښنا شى ، تندر پر يوزى زموږ په كلى

په هر رود چى توفان راشى ،زموږ كور ته راسيخيږى

په دالرو باړه شوى ، كه غلجى كه درانى دى

پښتانه او پښتو دواړه ، هسى ښكارى چى ختميږى

د احمد په ګور يې تو كړى ، تورى ناړى د يڼكيو

دا چى پلاز له ګروى نيسى ،دا چى ورونو ته ګواښيږى

موږ ته ټول جهان دوزخ دى ،چى وطن مو په كى نه وى

موږ ته هر وطن سقر دى ،چى افغان په كى څوريږى

موږ ته هر" شا به" پیغور دی ، چی دښمن یې را ته وایې

موږ ته هر سلام لعنت دی ، چی په سپکه په موږ لویږی

موږ ته هره ګوله مرګ دی،چی دبل په ست یی ژوویو

موږ ته هر ګوټ هلایل دی،چی د بل جام نه ګوټیږی

موږ ته هر مشر دشمن دی،چی په موږ یې رحم نه شی

موږ ته هر افغان پردی،چی پردی سره یو کیږی

موږ ته هر ملک تلک دی،چی زموږ په سر روپۍ خوری

موږ ته هر ملا بلا دی،چی په خلکو نه رحمیږی

*          *          *

جګی جګی ساقی راشه،پس له عمره راپخلا شه

په چوپیا کی کی مو غو غا شه،چی مجلس رانه سرېږی

د ځو انۍ نوبت می تیر شو،کوم چی تیر شو هغه هیر شو

اوس راونیسه داپاتی،چی قطار رانه تیر یږی

که مطرب او رباب نه وی ،که مستی او شباب نه وی

که دمینی عذاب نه وی، عمر بد کړی چی اوږدیږی

هوښیاری یوه تنهایی ده ، تنهایی یوه تباهی ده

په ترخو اوبو می ډوب کړه، ګنی زما جاله ډوبیږی

په مستۍ کی را چارپیر کړه ،یوه کیږدۍ خورو څڼو

چی شپی ورځی رانه تښتی ،چی کاروان رانه بیلیږی

دپسرلی په ښکلو یادو،جام ته تویې کړه سکروټی

چی ګلونه ړاته ژاړی ، چی خزان راته ګواښیږی

دځوانۍپه باغ می راغله،دزړښـــــــــت دماښـــــام لــــــــــړه

پیالی ډکې کړه له مخی ،عمر تښتی نه ودریږی

ساقۍ ستړی یم له ژونده، لیږ می خلاص کړه له دی بنده

ګنی وژنی می دا تنده ،چی ګړۍ ګړی زیاتیږی

هو مره را کړه چی پی ورک کړم ،سرله پښو،پښی له سره

چی غنی(۱) را څخه تښتی،بینوا(۲)رانه پټیږی

چی خوری صحرا ته ووځم،لیونی دلیو نیو

چی مستی را کی نخیږی، چی جنون را ته خندیږی

چی مر غان د خړو دښتو،راته ووهی وزری

چی زرکان راته غړیږی،چی هوسی راته پنډیږی

*         *         *

نه ،نه خو شی ټو  که نه ده ،غنی لیږ ور ته دمه (۳)شه

دا خوب وړی راویښیږی، دا پریوتی را پا څیږی

ګومان مه کړه چی خالی شوه ،ساقی مینا له میو

لا د تاک په تا خانو کی ، دانګور ښیښی ډکیږی

لا رباب سور شوی نه دی ، لا تش دوه دوره او ښتی

لاسا قی نوی راغلی، لا رندان نوی ګرمیږی

لا دځمکی تل کی ایشی، تللی وینی دځلمیانو

لاددی دتودوخاورو، سره ګلونه راغوړیږی

لازموږ په ارادوکی، عشق دمنډوغلی نه دی

شپه که هرڅه توفانیده،څراغونه لابلیږی

لاوطن خلک رابولی، دمیړانومعرکوته

لاهغه ژنی ژوندی دی، چی ترهوډه قربانیږی

لاخوریږی نیمو شپو کی،دتوفان غاوری چیغی

لادغرولە جمدرونو،سیلاوونه راکوزیږی

لادوینو واټ پرانستی،لیونتوب دی لیونو ته

لاپه پښو کی دمستانو، ځنځیرونه سره شلیږی

لا دځمکی تناوونه،لاره باسی زلزلوته

لا   په باداو بریښناکی،ګردشونه رارسیږی

لادرزم ګرمی شته دی،زموږ په مټوکی دننه

لاز موږ په پښتون زړه کی،"دایمل" وینه چلیږی

لاپه جنګ دتخت اوبخت کی، زمونږ لوبه ختمه نه ده

لاهمت دشیرشاهی ته،همایون له آسه لویږی

لادلوړو وریځو شاته،عقابان وهی وزرې

لاپه هسکوسردروکی،افغانی زمری غوریږی

لادخپلی خاوری مینه،مونږ ته وایی چه راپاځئ

لاخوب ورې دپیریو،له خوبونو راویښیږی

لازمونږ په کلاګانو،پښتنی حیا خو ره ده

لازمونږ په دروازوکی،غیرتونه پالل کیږی

دا به بیا یوه غوغا شی، لکه خاخکی په څپو کی

یو سرکښه یاغی سین شی،سمندر ته به رسیږی

دا به بیا سپیدی خورې کړی، داطلسو پالنګونو

دبلورو په بیدیا به، رود دوینو راخوټیږی

دابه بیا په لمر لویدوکی،دمرغانو سیل له ورایه"

لکه سور بیرغ دفتحی،په سرو وزانګو کی رپیږی"۴

دا به بیا زمزم ته رسی،دبیدیاوو جل وهلی

دابه بیا په جل وهلو،درحمت باران وریږی

دا به بیا په مخه دانګی،دازمونږ جنګی آسونه

دابه الوزی له کندو ،دابه لوړو ته رسیږی

دا به اچوی له سویو،سری سکروټی په تکل کی

دا به رسی تر هدفه،دا به خامخا بریږی

دا به بیا اباسین ایشی،ډوبوی به توری کونی

تور پنجاب به وهل کیږی،له بنسټه به نړیږی

دا به بیا زموږه ژڼی،لاره باسی آزادی ته

چا چی زموږه سر غوځ کړی،د هغه سر به غو څیږی

دا به بیا لنډې مسیږی،تن به باسی بستره

پښتانه به راپاڅیږی،پښتونخوا به آزادیږی

دا به بیا د"احمد"چیغی،ریږدوی د لاهور مراندی

دا به بیا په کړاکړ کی،د"بیربل "ژامی ماتیږی

دابه بیا "سیدال" راباسی، دمرګ توره په غجرو

اخوندان به ترینه تښتی،اماماں به تری پټیږی

دادقم چړیان به پوه شی،چی افغان دننګ په کارکی

خپل پور نه پریږدی پردی، داتقدیر دی نه بیلیږی

د ښاغلی لایق صاحب نور شعرونو دلته کتلی شی

ــ یا دونه درمندونه

http://howd.org/app/download/4278459202/chunghar.pdf

ــ چونغر

http://howd.org/app/download/4278459202/chunghar.pdf

ــ کیږدی

http://howd.org/app/download/4278461402/kegday.pdf

HOWD هود

هـود
HOWD
www.howd.org